واحد فقيري ۲۰۱۶/۰۳/۰۲

# ځرنګه امريکا او افغان وارلاډانو فساد او رشوت عام کړ!

د قراردادیانو جنګ:
درنو لوستونکو: دا تحقيقاتي رپوټ د امريکا (د نيويارکر) مجلې په ويب سايټ کي خپور سوی دی. ليکوال ښاغلي ماتيو اکينز غواړي چي په افغانستان کي د امريکا قراردادي فساد راڅرګند کړي. ليکوال باور لري چي په افغانستان کي د امريکا د قراردادونو فساد نه يوازي په سل هاوو افغان جنګسالاران ورو‌زل، بلکي په افغانستان کي د امريکا د اوسنی ناکامی يو اساسي سبب همدا پراخ او حيرانونکی فساد دی. ليکوال واقعاً د خپل رپوټ په برابرولو کي بلا کوي. البته، دا هم بايد ووايم چي د نيويارکر مجله د امريکا مشهوره مترقي سياسي مجله ده چي په امريکا او غرب کي زيات لوستونکي لري. ليکوال د حکمت ښادمن په ژوند، اني ثروت، او اوسني حقوقي مشکلاتو کي د امريکا په ملاتړ له پراخ او حيرانونکي فساد څخه پرده پورته کوي. ځرنګه چي رپوټ ډير اوږد دی، ما رپوټ ښه راخلاصه کړی دی.

**متن:**

ښاغلي اکينز ليکي: ۱۵ کاله کيږي چي په افغانستان کي د امريکا جنګ روان دی. هلته امريکا په سل هاوو بيلونه ډالره ولګول. خو اوس سوال دا دی چي ځرنګه ممکنه ده، په افغانستان کي موږ دونه زياتي پيسي ولګولي وي، مګر بيا هم نيتجه ئې دونه خرابه راووتله؟ موږ (امريکايان) په افغانستان کي يوازي ۱۱۳ بيلونه ډالره د بياودانولو باندي ولګولي، چي دا رقم د مارشال پلان تر پيسو ډيري دي، خو افغانستان اوس هم په جهان کي تر ټولو غريب ملک دی.
ليکوال ادامه ورکوي او ليکي: کله چي په افغانستان کي د امريکا عسکر زيات سول، او جنرال پتريس د امريکايي قواوو قومندان و. هغه وغوښتل چي په افغانستان کي د عراق تجربه تکرار کړي. جنرال پتريس د افغانستان و اقتصاد ته پيسي ور پمپ کړي. هغه ويل: له پيسو څخه بايد د وسلي په ډول استفاده وسي. هغه به مدام ويل: له پيسو څخه وسلي جوړېدلای سي. جنرال پتريس او نورو امريکايي جنرالانو په افغانستان او عراق کي جنګونه داسي عيار کړل چي د سترو امريکايي نظامي کمپنيو لپاره د ګټي او بزنس سرشاره او نه اوچيکيدونکي چيني وی. پداسي قراردادي جنګونه کي عموماً سياسي ستراتيژي او يا بل عالي هدف محرک نه وي، بلکي ګټه د جنګ محرک وي.
په خوا، ځرنګه چي د امريکا پوځ نه غوښتل چي تلفات ووينې، نو بناً د امريکا اردو هڅه کوله چي هر څه (اوټ سورس) مانا قراردادي کړي. په نظامي اډو کي پاک کاري، ډوډی، حفظ او مراقبت، او د امريکايي اډو د خارجي کمربندونو حفاظت ټول ليلام او قراردادي سول.
په نيتجه کي، د امريکا همدي قراردادي پاليسی داسي اداري فساد ترويج کړ چي نه يوازي امريکايان او افغانان فاسد سول، بلکي د امريکايانو د مالياتو په پيسو طالبانو هم مزې وکړې. ځرنګه چي د امريکا پوځ هر شی ته ضرورت لاره، او هر شی بايد د سړک له لاري له پاکستان څخه راغلی وای، نو ځکه د کاروانونو تګ راتګ کي ترک ډريوران مجبوره ول چي طالبانو ته د حق العبور لپاره جزيه ورکړي. د امريکا د اډو لپاره همدا کارواني اکمالاتي کاروانونه د طالبانو او نورو محلي زورواکانو لپاره د پيسو يوه غټه منبع سوه.
د ۱۵ کاله جنګ په بهير کي، له يوه ځوان قريب ۲۸ کلن کندهاري حکمت الله ښادمن څخه يو ميلونر جوړ سو. هغه د امريکا له قراردادونو څخه ۱۶۰ ميلون ډالره ترلاسه کړي دي.
مګر ښاغلی حکمت ښادمن اوس په واشنګټن کي په عدليي وزارت کي امريکايي افسرانو ته د رشوت ورکولو په جرم دوسيه لري. خو حکمت ښادمن وايي: زه بې ګناه يم. مګر څو امريکايي افسرانو هغه پر خلاف د رشوت ورکولو په جرم اعتراف کړی دی، او ويلي دي چي حکمت ښادمن و دوی ته په لکهاوو ډالره رشوت ورکړی دی، او دوی په بدل کي هغه ته په ميلون هاوو ډالره قرار دادونه ورکړي دي.
ليکوال ليکي: ما په ۲۰۱۴ کي په کابل کي د ښاغلی حکمت ښادمن سره وليدل. هغه د افغان مشهور هنرمن احمد ظاهر کور رانيولی دی، او د کابل په يوه ګنه ګونه ځای کي ژوند کوي. حکمت ښادمن ښه انګريزي خبري کوي. د هغه په کور کي هر څه طلايي رنګه دي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولئ

حکمت ښادمن وايي: زه بې ګناه یم. زه د امریکا د سپیشل فورس د کورنی غړی یم. زه هغوی روزلی یم. څکه نن ورځ دونه زيات ثروت لرم.
په افغانستان کې د امریکا تر مداخلي مخکي (۲۰۰۱)، حکمت یو ۱۴ کلن هلک و. هغه د کندهار په زاړه ښار کي د مور او پلار او وړونو او خویندو سره ژوند کاوه. د حکمت پلار یو معلم و.
حکمت وايي: د طالبانو په دوران کي، موږ ټیلفون، تیلویزیون، او نور شیان نه درلودل. طالبانو به کله نا کله موږ د مکتب شاګردان د کندهار ستيډيم ته بوتلو، او هلته به ئي خلګ اعدامول. هغه یوه توره دوره وه، او موږ د جهان سره رابطه نه لره.
د طالبانو په دوران کي به حکمت او د ښار نور ښاري ځوانانو هندي فلمونه د طالبانو له محتسبانو څخه په پته کتل. پلار ئي بي بي سي پښتو اورېده او نوټونه به ئي اخیستل.
په ۲۰۰۱ کي کله چي امریکایانو د طالبانو رژیم ړنګ کړ، ګل اغا د امریکا د سپیشل فورس او سي ای اې په زور د کندهار ولایت ونیو. په دې وخت کې، د کندهار اقتصاد انکشاف کاوه، امریکايي قواوو زیاتي پيسي لګولي. په ښار او ټول افغانستان کي خوشبيني وه.
په دې وخت کي، د حکمت پلار مړ سو. او حکمت ښادمن مجبوره سو چي د خپل کورنۍ د نفقي لپاره د فرینج فرایز، سوډا، او کوک کوکه خلاصه کړي.
په ۲۰۰۲ کي، حکمت د امريکايي سپیشل فورس سره د پاک کاري او بیا ترجمانی کار پیدا کی. د حکمت یو همصنفي وايي: حکمت تل غوښتل چي ښه ژوند جوړ کړي. هغه تر موږ ټولو لايق هلک و. ښه انګریزي ئي زده وه. تل ئي ډېر درس وايه.
په دې وخت کي، سپیشل فورس او سي ای اې د ملا عمر پخواني کور قبضه کړی و، او همدا ئي اصلي اډه وه. په دې وخت کي، ځوان حکمت ښادمن له امريکايي قواوو سره د ترجماني په بدل کي هره میاشت ۱۵۰۰ ډالره معاش اخيست.
خو په ۲۰۰۷ کي حکمت ښادمن ترجماني پرې ښوده، او د کندهار په میدان کي د امريکايي قواوو سره قراردادونه ترلاسه کوي.
پدې وخت کي، د کندهار د میدان زیاتره امریکايي قراردادونه د ګل اغا شیرزي او ورور رازق شیرزي پوري اړه درلوده. په دې ترتیب سمدستي حکمت ښادمن د هغوی سره په ټکر کي ولید. د امريکايي اشغال په اولو کلونو کي، ګل اغا شیرزي او رازق شیرزی د امریکا د سپیشل فورس او سي ای اې د اکمالاتو وظيفه پر غاړه لرله. هغوی د شیرزي ساختماني کمپنۍ له لاري امريکايانو ته اکمالات برابرول.
په کندهار کي، د ګل آغا شیرزي د ولايت په دوران کي ۲۰۰۱ تر ۲۰۰۳ پوري، د امریکا سپیشل فورس، د سي ای اې غړو، او د ګل اغا شیرزي ملګرو په ګډه د طالبانو او خپلو کاروباري او سیاسي حریفانو پر کورونو باندي چاپي او مرګانی حملي کولي. په دې نیولو او قتلونو کي، زيات خلګ تلف سول. څو بالاخره د طالبانو زیاتره غړي دېته مجبوره سول چي پاکستان ته کډه وکړي، او د حامد کرزي او امريکايانو پر ضد وسله واخلي.
په ۲۰۰۶ او ۲۰۰۷ کي، امريکايانو غوښتل چي د ګل اغا شیرزي قراردادي انحصار راکم کړي، او هغوی حکمت ښادمن او څو نورو تنو ته خپل اول لاس قراردادونه ورکړل.
له ۲۰۰۷ څخه تر ۲۰۱۰ پوري، د امریکا عسکر له ۱۴۰۰۰ څخه یو لک نفر ته ورسیدل، او قریب په همدې اندازه امریکايي او افغان قرار دادیان هم ول.
یو برتانوی افسر وايي: هله د قراردادونو باران و. د پیسو او امريکايي ډالرو باران و. د وطن ریسک منیجمنټ امنیتي کمپنۍ عاید په اتو میاشتو کي له پنځو لکو څخه ۵۸ میلونو ډالرو ته ټوپ وهل. په دې وخت کي، د کندهار میدان د امریکايي قواوو غټ مرکز و. خپل بازار ئي لاره. او په هفته کي قریب دوه میلونه ګیلنه تیل ئي یوازي د برق د تولید لپاره سوځل. په زرهاوو لارۍ د امریکايي قواوو لپاره په اکمالاتو لګیا وې. د امریکا پوځ پیسي په چهار ښاخو بادولي.
په دې وخت کي، ګل اغا شيرزي، حکمت ښادمن، او څو نور کسانو د «اول لاس» په نامه قراردادونه اخیستل، او بیا ئي پر نورو باندي په کمیشن خرڅول.
په دې وخت کي، اداري فساد او رشوت د امریکا په پوځ کي او په تیره بیا په قراردادي دفترونو کي ښه پیرمانه شروع و. هغو امريکايي افسرانو چي په قراردادونو کي ئي کار کاوه، اکثره فساد او رشوت خوره ول. هغوی ته همدې اول لاس قرار دادیانو رشوت ورکاوه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

یوې امریکایي افسرې ټونیا لانګ چې اوس په امریکا کې په افغانستان کې د رشوت په جرم پنځه کاله بندي ده وایي:
ټولو رشوت خوړی. افغان قراردادیانو و امریکایي افسرانو ته په لک هاوو ډالره رشوت ورکاوه، څو ښه قراردادونه
ترلاسه کړي. میرمن لانګ په (وي سي ار) کې یو میلونه ډالره امریکا ته رانقل کړي وې، څو بالاخره ګرفتاره سوه.
په ۲۰۰۸ کې، د حکمت ښادمن عاید قریب ۸ میلونه ډالره ورسید. خو له ۲۰۰۷ څخه بیا تر ۲۰۱۱ پورې ئې ۱۶۷
میلونه ډالره پیدا کړي دي. هغه اوس د کندهار له شتمنو خلګو څخه و. هغه واده کړی دی. حج ته تللی دی. اروپا ته
ئې سفرونه کړي دي. پیرس ئې لیدلی دی. اوس، د روژې په میاشت کې خیراتونه کوي. خلګو ته پیسې ورکوي.
ګران او قیمتي شیان رانیسي.
د ۲۰۰۷ په جریان کې، حکمت ښادمن د طالبانو له فشار او تهدید سره مخامخ سو. د هغه د وړور د برمته کیدو تهدید
وسو. د هغوی پر دروازې باندې تهدیدي لیکونه ځوړند سول.
بالاخره په ۲۰۱۰ کې د امریکا کانګرس په افغانستان کې د قراردادي فساد په باره کې تحقیقاتو پیل کړل، او حکمت
ښادمن په ګوته سو. څیړنو وښوده چې حکمت ښادمن و طالبانو ته د خپلو کاروانونو د سالم تګ راتګ په بدل کې
جزیه او رشوت ورکوي. خو په همدې کال کې د جمهور رئیس حامد کرزي وړور، د قسیم فهیم وړور، او د کابینې
نورو غړو د کابل بانک چور کړ. هغوی یو بیلون ډالره غلا کړې. د کابل بانک فلمي لوبې د قرار دادونو د تحقیقاتو
کار څه وځنډوی.
خو د ۲۰۱۱ په مینځ کې، د حکمت ښادمن قراردادونه بند سول. وروستیو تحقیقاتو وښوده چې د حکمت ښادمن په
تورنولو کې رازق شیرزي لاس لاره، ځکه حکمت ښادمن د شیرزي د کورنۍ سره د امریکایي قراردادونو په برخه
کې رقابت کاوه. ځیني وایي چې رازق شیرزی حکمت ښادمن ځکه د امریکایانو په لاس ورکړ چې شیرزي غوښتل
چې د امریکایانو سره خپل ناروا معاملې پټې کړي.
خو د ۲۰۱۲ په اکتوبر کې، د امریکا پوځ حکمت ښادمن ونیو، او لاس تړلی ئې د بګرام محبس ته بوت. امریکایي
عسکرو د ښادمن د سر وریښتان وخروي، لڅ لرپر ئې ودروی، او د اوبو په نلکه ئې پرې ولی. حکمت ښادمن په
هغه امریکایي زندان کې شپې او ورځې تیرولې چې یو وخت ئې د امریکایي سپیشل فورس سره یو ځای نور افغانان
وراستول.
د امریکایانو سره له کلونو کار او خدمت څخه راوروسته، حکمت ښادمن په دې وخت د طالبانو سره په مرسته کولو
متهم و. هغه په دې باب وایي: په پښتو کې یو متل دی چې وایي دوې هندوانې په یوه لاس کې نه نیول کیږي. زه چې
کله ۱۵ کلن وم، د امریکایانو سره ملګری سولم. زه د سپیشل فورس د کورنۍ یو غړی یم. ما د طالبانو پر ضد کار
کړی دی.
له څو میاشتو بندي توب څخه راوروسته، حکمت ښادمن بې ګناه اعلان سو، او د بګرام له زندانه آزاد سو. د امریکا
تحقیقاتو وښوده چې هغه د ګل آغا شیرزي له خوا تورن سوی و، ځکه چې ښادمن په بزنس کې د هغه حریف و.
ګل آغا شیرزی په دې باب وایي: ښایي حکمت ښادمن طالبانو ته پیسې ورکړي وي. مګر دا کار ټولو کاوه. خو خبره
دا ده چې حکمت ښادمن قدرتمن سړی نه و. هغه نه سوای کولای چې خپل کاروانونه پرته له رشوت او پیسو څخه
تیر کړي.
لیکوال لیکي په افغانستان کې د امریکایي اشغال په دوران کې (۲۰۰۱ – ۲۰۱۶)، هغو افغانانو چې د امریکا د
مداخلې له وجې بډای سوي دي، هغوی په دوبۍ کې کورونه او مانۍ راخیستي دي. هلته د امریکا په پیسو عیشونه
کوي. په ۲۰۱۳ کې، حکمت ښادمن په دوبۍ کې په ۴۳ میلونو ډالرو باندې یو کور واخیست، خو کله چې ئې پیسې
ور انتقالولې، د هغه پیسې د کابل حکومت ور کنګل کړې.
لیکوال لیکي: تیره مارچ میاشت په کندهار کې وم. د کندهار په میدان کې هغه پخوانۍ بیروبار نه و. نور د قراردادیانو
د لاریو کتارونه نه ول.
که څه هم، جمهور رئیس اوباما غوښتل چې امریکایي عسکر ژر له افغانستان څخه راوباسي، خو د کندوز سقوط او
د طالبانو زیاتیدونکو حملو د امریکایي عسکرو راوتل وځنډول. ځکه د کابل حکومت په یوازې سر د ځان دفاع نه
سي کولای، او که یوازې پرې ښودل سي، سقوط کوي.
اما په عین مهال کې د امریکا په حکومت کې دا مفکوره کرار کرار غالبه کیږي چې د افغانستان جنګ نه ګټل کیږي،
او مصارف ئې د امریکا لپاره زیانمن دي. دغه راز، ځیني امریکایي مامورین وایي چې په افغانستان کې جنګ یوازې
په طالبانو او القاعدې پورې نه دی تړلي. په بل عبارت، د افغانستان جنګ ډیر مغلق دی. امریکایي مامورین وایي د
افغانستان د حکومت لوی دښمن اداري فساد دی.

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

په هر حال، کندهار کي خلک وايي چي حکمت ښادمن ځکه په نښه سو چي مقتدر جنګسالار نه و. هغوی وايي په افغانستان کي تل لوی غله بې غمه ګرځي، او کوچني غله کله نا کله نيول کيږي. کندهاريان وايي امريکا ګل آغا شيرزی نه ګرفتاره کوي، ځکه چي هغه د سپيشل فورس او سي ای اې ملګری دی. ځيني کندهاريان وايي چي حکمت ښادمن د شطرنج د پياده غوندي استعمال سوی دی. ځکه خور زورواک ميلې کوي، او حکمت ښادمن غوندي بې کسه سړی په دار کي ژوند کوي. خو ګل آغا شيرزی وايي چي د امريکا پيسې هم د افغان حکومت وهلې او هم طالبانو وهلې.

پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ